**Pashto**

## د ایریز والدین پورټال (Aeries Parent Portal)
## مکرر پوښتل کیدونکې پوښتنې (FAQs)

**د ایریز والدین پورټال )Aeries Parent Portal(  څه شی دی؟**

د ایریز والدین پورټال )Aeries Parent Portal( یو ویب سایټ او اپ دی چیرې چې کورنۍ کولی شي د خپلو زده کونکو دندې او نمرې تعقیب کړي، د هغوی د ښوونکي/ښوونځي څخه معلومات ترلاسه کړي، د هغوی ښوونکو ته پیغامونه ولیږي، او خپل د اړیکې معلومات تازه کړي.

**زه څنګه د والدین پورټال حساب جوړ کړ م؟**


په فایل کې د خپل بریښنالیک پتې تازه کولو او د والدین پورټال ته لاسرسي غوښتنې لپاره د خپل ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. د خپل ښوونځي ویب سایټ موندلو لپاره د ټوین رایورز یونیفایډ ښوونځیو (Twin Rivers Unified schools) ]https://bit.ly/TRUSD-Schools نوملړ وګورئ، د نورې مرستې لپاره د هغوی د اړیکې معلوماتو )د تلیفون اړیکه او بریښنالیک( لپاره د کارمندانو لارښود )Staff Directory( باندې کلیک وکړئ.

**زه څنګه د ایریز والدین پورټال )Aeries Parent Portal(  ته لاسرسی ولرم؟**

د ولسوالۍ د ایریز والدین پورټال )Aeries Parent Portal( لنک ]https://parent.twinriversusd.org[ ته ورتګ له لارې یا ستاسې د ښوونځي ویب سایټ‌په پورته سر کې د ایریز والدین/زده کونکي پورټال )Aeries Parent/Student Portal( لنک باندې کلیک کولو سره:




همدارنګه تاسې کولی شئ د موبایل اپ [iOS / Google Play] ډاونلوډ کړئ، او د خپل زده کونکي ښوونځی انتخاب کړئ.




تاسې کولی شئ خپل د ژبې ترجیح انتخاب کړئ چې ایریز یې په خپل اپ کې وړاندې کوي.

**که زما نه پاسورډ هیر شي نو څه؟**
**زه څنګه زما پاسورډ بدل کړم؟**

د ننوتلو پاڼه کې په "پاسورډ هیر شوی" (Forgot Password) لنک باندې کلیک وکړئ. کله چې ننوتلئ، د پاسورډ بدلولو انتخابونو باندې کلیک وکړئ.

**آیا د والدین پورټال حساب (Parent Portal Account) جوړولو لپاره زه د بریښنالیک پتې ته اړتیا لرم؟**

هو، والدین د پورټال حساب جوړولو لپاره معتبر بریښنالیک پتې ته اړتیا لري. که تاسې د بریښنالیک پته نلرئ نو ډیری شرکتونه شتون لري چې وړیا ویب بریښنالیکونو وړاندې کوي لکه ګوګل او یاهو.

**که زه په ټوین رایورز یونیفایډ ښوونځي ولسوالۍ ( Twin Rivers Unified School District) کې نوی یم، آیا مخکې لدې چې زه وکولی م د والدین پورټال حساب جوړ کړم زه باید زما زده کونکی راجستر کړم؟**

هو، ستاسې زده کونکی باید په ښوونځي کې ثبت وي مخکې لدې چې تاسې وکولی شئ د والدین پورټال حساب جوړ کړئ. کله چې تاسې ثبت شئ، ستاسې د ښوونځي مامورین باید تاسې سره د حساب جوړولو لپاره اړین معلوماتو په برخه کې مرسته وکړي.

---

*د TRUSD اپس پورټال (TRUSD Apps Portal)، ګوګل کلاس روم (Google Classroom)، د ایریز والدین پورټال (Aeries Parent Portal)، او د زده کونکي کروم بوک (Student Chromebooks) په اړه معلوماتو لپاره د کورنیو لپاره د لیرې لارې زده کړې ویب پاڼې [http://www.bit.ly/TwinRiversFamilies] ته لیدنه وکړئ.*

## د ایریز والدین پورټال (Aeries Parent Portal)
## مکرر پوښتل کیدونکي پوښتنې (FAQs)

**که چیرې په ولسوالۍ کې زما د یو نه ډیر ماشومان ثبت وي نو آیا زه اړ یم چې څو حسابونه جوړ کړم؟**

نه، تاسي یوازې اړ یې یوځل د والدین پورټال حساب جوړ کړئ. د خپل زده کونکي ښوونځي سره اړیکه ونیسئ

چې هغوی ستاسي حساب کې وراضافه کړي.

**آیا د یو نه ډیر والدین/سرپرست کولی شي د زده کونکي ډیټا ته لاسرسي لپاره یو حساب ولري؟ د مثال په توګه، والدین سره طلاق شوي وي.**

هو، د یو نه ډیر والدین/سرپرست کولی شي د والدین پورټال حساب ته لاسرسی ولري، تر هغه پورې چې هغوی خپل د بریښنالیک پته کاروي.


**آیا والدین/سرپرستان اړ دي چې هر کال یو حساب جوړ کړي؟**

نه. دا یو ځلي پروسه ده. که تاسي بل ماشوم لرئ چې ولسوالۍ کې داخلیږي (د مثال په توګه د وړکتون زده کونکی)، تاسي کولی شئ هغه خپل موجود حساب ته وراضافه کړئ. مهرباني وکړئ یادداشت کړئ – تاسي د هر ښوونیز کال په پیل کې د خپل حساب لپاره د ډیټا د تایید پروسې بشپړولو ته اړتیا لرئ.

**زه څه وکړم که چیرې زه د تایید کوډ ونلرم؟**

د ښوونځي د دفتر کارمندان به ستاسي شناخت تایید کړي او ستاسي د بریښنالیک پته به د زده کونکي ریکارډ ته وراضافه کړي. تاسي به بیا د دې معلوماتو سره یو بریښنالیک ترلاسه کړئ چې څنګه ننوځئ (د نوي حسابونو لپاره)، یا د دې خبرتیا ورکولو بریښنالیک چې ستاسي د پورټال حساب کې بدلون راوړل شوی (د موجود حسابونو لپاره).

بل ځل چې تاسي ننوځئ نو زده کونکی به ستاسي حساب کې موجود وي (هیڅ VPC کوډ ته اړتیا نشته).




**زه نورې اضافي مرستې ته اړتیا لرم، د چا سره باید اړیکه ونیسم؟**

هغه والدین او سرپرستان چې د اړیکې تفصیلاتو سره بریښنالیک یې نه وي ترلاسه کړی کولی شي د نور ملاتړ لپاره د خپل زده کونکي

ښوونځي سایټسره اړیکه نیولو له لارې د حساب جوړولو لپاره مرسته ترلاسه کړي.

د هغه کورنیو لپاره چې حساب لري او ننوتلو کې یا د وسیلې کارولو کې ستونزې لري، تاسي کولی شئ د **TRUSD د آی.ټي د مرستې ډیسک ته** د بریښنالیک له لارې TechSupport@trusd.net یا په **(916) 566-7802**( شمیره د تلیفون کولو له لارې، دوشنبه – جمعه، سهار 7 – ماښام 5 بجې لاسرسی ولرئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې ممکن ځینې بڼې یې د ښوونځي پیل کیدو پورې موجود نه وي.

---

*د TRUSD اپس پورټال (TRUSD Apps Portal)، ګوګل کلاس روم (Google Classroom)، د ایریز والدین پورټال (Aeries Parent Portal)، او د زده کونکي کروم بوک (Student Chromebooks) په اړه معلوماتو لپاره د کورنیو لپاره د لیرې لارې زده کړې ویب پاڼې [http://www.bit.ly/TwinRiversFamilies] ته لیدنه وکړئ.*